د پښتو ژبې لهجې/ Pashto dialekter

پښتو ژبه د نورو ژبو په څير په بيلابيلو سيو کښې د ويونکو د موجوديت له امله ډېرې لهجې لري. دا چې د ټولولويو او وړو لهجو بيانول مشکل اوپه عين وخت کښې له ستونزو او کړاوه ډک کار دی، نو له همدې امله غواړو دلته معياري او د يادونې وړ لهجې په لنډه توګه وښيو:

د پښتو ژبې لهجې په دوو لوېديځو او ختيځو لهجو ويشل شوی دي او بنسټ يې د دوو تورو(ښ،ږ) توپيرګنی چې په لوېديځو لهجوکښې يې(ش،ژ)ته نژدې او په ختيځو لهجو کښې (خ،ګ) تلفظ او ويل کېږي، خو اوس د زيات غوراومطالعو په نتيجه کښې يوه دريمه لهجه د مرکزي لهجې په نوم د اساسي لهجو په کتار کښې شامله شوې ده.

پښتو لهجې په دوو سترو ډلو ويشل کېږي:

الف) اصلي لهجې

ب) فرعي لهجې

اصلي لهجې په درې ډوله دي چې په لاندې توګه بيانېږي:

1 - **لوېديځه لهجه:** چې د کندهارۍ لهجې په نوم هم يادېږي او د تاريخي افغانستان په لوېديځو او سهيلی(جنوبي) سيموکښې ويل کېږي.
په دغه لهجه کښې د پښتو د دوه ځانګړي توري (ښ،ږ) د(ش،ژ) آواز ته نږدې تلفظ کېږي او بل مهم ځانله توب يې دادی، چې په کومکي فعلونو کښې يې(ش) آواز په (س) بدلېږي. يعنې(وشو شوی دی، شته ، نشته) کلمې په (وسو،سوی دی،سته،نسته) ويل کېږي.

2 - **مرکزی لهجه:** چې د منځنۍ لهجې په نوم يادېږي او د افغانستان په مرکزي سيمو لکه. غزني،وردک،لوګر،پکتيا،پکتيکا او نورو کښې ويل کېږي.

په دغه لهجه کښې د پښتو ځانګړې توري(ښ،ږ) په خپل اصلي آواز تلفظ کېږي او د تلفظ په وخت کښې يې د ژبې منځنۍ برخه پورتني تالو سره نښلي.

3 - **ختيځه لهجه:** چې د ننګرهاري لهجې په نوم هم يادېږي او د ننګرهار،مومند،باجوړ،اشنغر،او يوسفزوپه سيموکښې ويل کېږي. په دې لهجه کښې(ښ،ږ) د (خ،ګ) په څېرويل کېږي.

ب) **فرعي لهجې:** فرعي لهجې زيات ډولونه لري چې ځينې مهم يې په لاندې توګه بيانېږي:

- **وزيرۍ لهجه:** وزيري لهجه د (ښ،ږ) په تلفظ کښې د لوېديځې لهجې د تلفظ تابع ده،خو په نورو مواردو کښې له مرکزي لهجې سره اړيکي او نږديوالی لري.

  په وزيرۍ لهجه کښې هغه (الف) چې د کلمې په مينځ او پای کښې راغلی وي په (و) بدلېږي او (کال،پلار،کابل) ته (کول، پلور،کوبل) وايي. او همدا رنګه منځنۍ(واو)په (ی) بدلوي او (مور، لوند،توت) په مير،لېند،تيت) تلفظ کوي.
- **د ځټکولهجه:** دختټکو لهجه د (ښ،ږ) په تلفظ کښې له لويديځې لهجې سره سمون لري،خو په لغاتو او اصطلاحاتوکښې دختيځې لهجې سره اړيکې لري.
- **کاکړۍ لهجه:** په ځينو مواردو کښې د لويديځې لهجې او په ځينوکښې له مرکزي لهجې سره نږدې والې لري، مثلاً (ژ) د مرکزي لهجې په څېر(ز) تلفظ کوي او(ژوند ،ژبه،ژمې) د (زبه،زوند،زمې) په بڼه تلفظ کوي.
- **د احمدزولهجه:** په دې لهجه کښې (ژ)په (ز) او په ځينو کلمو کښې(ش) په (س)تلفظ کوي: لکه(ژوند،مشر،مياشت) په (زوند،مسر،مياست)تلفظ کوي.

- **د وردګولهجه:** یوه مهمه فرعي لهجه ده چې د اصلي مرکزي لهجې په لړکښې شمېرل کېږي.
- **د پکتیالهجه:** د مرکزي لهجې په کتار کښې شامله ده خو ځینې خاصې نښانې هم لري،مثلاً:ځدران او ځائي خلک(راځه،ځي) په ځای (راځه-ځي)تلفظ کوي.
- **د اپریدیولهجه:** په ځینوځایونوکښې له مرکزي لهجې او په ځینو کښې له خټیځي لهجې سره اړیکې او نزدیوالې لري. په دې لهجه کښې (ا،ی) په (و) بدلېږي او د(راشه،خورئ)پر ځای (روشه،خورو)وایي.
- **د یوسفزولهجه:** یوه مهمه فرعي لهجه ده چې په اصلي خټیځه لهجه کښې لومړی مقام لري.
- **دباجوړلهجه:** د خټیځو لهجوپه لړکښې شمېرل کېږي.
په دې لهجه کښې(غ،ت) په (ګ،څ) بدلون مومي او (غوښه،تېښته) په (ګوښه او څېښته) تلفظ کوي.
- **دمومندولهجه:** یوه مهمه خټیځه لهجه ده چې په درونداوځیر غږ سره ویل کېږي.
- **د خوګیانیو لهجه:** په زیاترو ځیزونو کښې له مرکزی لهجې سره اړیکې او نږوالی لري،خو په ځینوموواردو کښې له خټیځې لهجې سره اړیکې پیداکوي. او (غوړي)ته (غیږي) او خولی) ته خپله)وایي.
- **د شینوارولهجه:** یوه فرعي لهجه ده چې په ځینو کلموکښې زېر(کسره) په زور(فتحه)بدلوي،مثلاً:(ورمېر) ته (ورمېر)وایی.

سرچینې: پښتو ګرامر مؤلف پوهاند صدیق الله رښتین.۱۹۹۴پیښور.